درېیمه کچه

التعليم فوق الجميع | education above all

# کور



**لیکوال:** فاستو آریا ډي سانتېس
**انځورګر:** اوګین نایام

THE YALDA HAKIM FOUNDATION
Educate-Empower-Inspire

Smile Please(Pashto), Published by Pratham Books, under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver .



”ټپ-ټپ ټپ-ټوپ،“ زه له باران سره سندره زمزمه کوم، په داسې حال کې چې له ښوونځي څخه کور ته پر لار د خټینو اوبو ډنډونو د پاسه ټوبونه وهم.

قات/مروړل شوي اوسپنیز ځادرونه چې زمونږ په کلي کې کورونه پوښي، هم ما سره سندره وايي: ”ټپ-ټیپ-ټوپ

ټپ-ټیپ-ټوپ.“

زه باران سره مینه لرم! خو کله کله مې بیخي نه خوښیږي. دا دومره هم بد نه دی لکه څومره چې لبلبو/چقندر دی، خو زه هغه وخت ناکراره کیږم کله چې اسمان دا پریکړه نه شي کولای چې آیا دا خوښ دی که خپه؟ ”یو ځل بیا؟“ زه وریځیو ته شکایت کوم. یو ځل بیا، وریځې د څاڅکو نه تم کېدونکی سیند راکښته کوي.





دادا وايي چې مونږ په دې کلي، شيرګړ، کې د خپلو پلرونو او نيکونو د پلرونو او نيکونو د پرلونو او نيکونو (يعنې د نسلونو نسلونو) له وخته اوسېږو! دا موده له درې سوه کلونو څخه زياته ده.

مونږ د غاړې دسمالونه (سکارفونه) او پټوګان، چې هر يو يې ډېر ځانګړی دی، جوړوو. خو، زما ډېر هغه پټوګان خوښېږي چې دادا يې جوړوي. دا ډېر لوی او نرم وي – زه د هغه جوړ پټوګانو څخه يو پټو سره په داسې حال کې چې د لاسونو لاندې مې تاو کړی وي، ويده کېږم.

زمونږ هیواد ډېر لوی دی، خو مونږ هر ځای ته د تګ اجازه نه لرو. مور وایي چې مونږ یوازې هغه ځایونو ته تللی شو چېرته چې خلک زمونږ په څېر دي. له ښه مرغه، کلی هر هغه شی لري چې زه ورته اړتیا لرم – زما کورنۍ، زما ملګري، او میدانونه چې زه پکې لوبې وکړم. یوازینی شی چې مونږ یې نه لرو، هغه ډاکټر دی.

مور د تارونو پر ځای خبرې اوبدي. هغه په ټول کلي کې تر ټولو غوره نندارېزه کیسه ویونکې ده – د پلار بر عکس، څوک چې د یو زوړ کیشپ په سرعت سره کیسې بیانوي.
زمونږ د کلي شاوخوا د وریجو پټي دي – ښېرازه، شنه او پراخه – چې تر څنګ یې د بانسونو کورونه دي چې په اسمان کې د ستورو په څېر خواره واره پراته دي.





همدا لامل دی چې کله زه د یوه اورګاډي له چک چک څخه زیاته په پرنجو شم، مور ما دوه ساعته لېرې واټن کې پروت کلي کې یو ډاکټر ته بوځي. کله چې مونږ له کلینیک څه روانېدو ته چمتو کېږو، د جومات د لاسپکیر غږ اورم. خو د حمد او نعت غږ پر ځای د ملا امام چیغه اورم.

”لوېدیځ لوري ته منډه کړئ. هر سړی لوېدیځ لوري ته منډه کړئ. له هر هغه څه سره منډه کړئ چې په لاس کې مو دي. کور ته مه ځئ. وخت نشته دی. وسله وال سړي زمونږ پر لور راروان دي او هغه شی سوزوي چې دوی يې تر څنګ تېرېږي. مونږ ډارېږو چې هغوی به هر هغه څوک ووژني چې مخې ته يې ورځي. لوېدیځ خوا ته وتښتئ. وتښتئ!“ امام ډارېدلی معلومېږي.



ما سره نو په لاس کې د مور د لاس نه پرته بل شی نشته
دی او څه چې زه کولای شم دا دي چې دا لاس ټینګ
ونیسم. نور هر چا یو څه په لاس کې نیولي دي یا یو
څوک ګرځوي.

نو بس، مونږ منډه کوو. مونږ لوېدیځ خوا ته منډه کوو، له سلګونو نورو خلکو سره.

کټ مټ څنګه چې بې شمېره څاڅکي یو سیند جوړوي، مونږ یو سند جوړوو چې لوېدیځ خوا ته بهېږي. هر څاڅکی یو سړی دی چې روان دی، منډه وهي، تیندک خوري.

دا ناپایه سیند د وریځو له پټیو، باغونو، ځنګلونو او غرونو اوړي. نوي څاڅکي یوځای کېږي. ډېر د لارې په اوږدو کې نادرکه کېږي.



خو هغه څاڅکي چې زه یې تر بل هر څه ډېر غواړم – چې پلار، دادا، عمه او زمونږ د کورنۍ پاتې غړي دي – هیڅکله له سیند سره نه یوځای کېږي.

د خلکو سیند له هغه څه څخه چې مور یې پوله بولي، اوړي. هغه وايي
مونږ اوس په یوه نوي هیواد کې یو. خو هر شی هماغسې ښکاري.



آیا سیندونه پوهیږي چې هغوی له پولو اوښتي دي؟ آیا هغوی په دې هم پوهیږي
چې پولې څه شی دی؟

مونږ د شنه آسمان لاندې په یوه خلاص، او شاړ میدان کې یو.



په یوه افق کې، د وریجو کروندې په هغه ځایونو کې پناه کېږي چېرته چې زمونږ کور و. په یوه بل افق کې، یو ښار په یوه سمندر کې له سترګو پناه کېږي.



تش میدان کرار کرار په خیمو او جونګړو ډکېږي.

دلته خواړه نه کرل کېږي. خلک یې مونږ ته راکوي. اوبه له څاه ګانو څخه نه راځي. دا په لاریو کې راځي.



دلته، مونږ ټول یوه ورځ کور ته
د ستنېدو په هیله اوسېږو.

دا ممکنه ده چې د کور پرته
دې خوندیتوب محسوس کړل
شي؟ خوندي، زما د کورنۍ او
ملګرو په نه شتون کې؟

مور وايي مونږ دلته خوندي یو. خو له
پلار، دادا او عمه سره څه وشول؟ آیا
هغوی خوندي دي؟

زه ګورم او خپل اخوا دېخوا نظر
اچوم. خوندیتوب ښايي په یوه
نالېدلي پوکانۍ کې دننه په یوه
خلاص میدان بدل شوی وي.

زه اکثره فکر کوم چې کور چېرته دی؟

آیا دلته دی؟ آیا دا هلته دی چېرته چې زما کورنۍ ده؟ آیا

امکان لري چې کور دې په دوه ځایونو کې وي؟

زما د زړه یوه ټوټه به تل په شېرګړ کې وي. خو آیا دا بیا هم
کور دی که چېرې مونږ هیڅکله بېرته ورستانه نه شو؟



ښوونځی پیلېږي. دوه کاله تېرېږي. پلار، دادا، عمه او هر هغه څوک چې زه ورسره مینه لرم، بیخي نه راځي.

زه او مور مې لا هم همدلته یو. مونږ ته ویل کېږي چې مونږ دا پنډغالی نه شو پرېښودلای. خو هر څوک دا هم وایي چې مونږ دلته د تل لپاره اوسېدلی نه شو.

په یوه اړخ، لا هم هماغه سړک دی چې شیرګړ ته غځېدلی دی. په بل اړخ، بحر دی.
کله کله مونږ د تښتېدلو فکر کوو. خو نن، زه ښوونځی لرم.



”حسينې، آيا تا کتابونه په پلاستيک کې وپوښل؟“ مور چيغه کړه په داسې حال کې چې زه په بيړه په باران کې ښوونځي ته روانېږم.

”هو، مورې، کړي مې دي. “ زه بېرته په چيغه په ځواب کې ورته وايم، هڅه کوم چې غږ مې تر قات/مروړل شويو پلاستيکي پوښونو نه لوړ وي چې سندره وايي، ”ټپ-ټپ-ټوپ-ټپ
ټپ-ټپ-ټوپ-ټپ“





## لاربښودونکې پوښتنې

1. حسينې ته کور څه 'مانا' لري؟ د کيسې کومې کرښې تاسې ته دا وايي؟
2. حسينه اوس چېرته اوسېږي؟ آيا تاسې د ځای تشرېح وړاندې کولای شئ؟
3. "مور وايي چې مونږ يوازې هغه ځايونو ته تللی شو چېرته چې خلک زمونږ په څېر دي." ستاسې په اند دا جمله څه مانا لري؟ ستاسې په اند ولې دا ډول حالتونه شتون لري؟
4. د حسينې او د هغې کورنۍ لپاره يوازينۍ ډاکټر ۲ ساعته مزل لېرې دی. ولې دا يوه ستونزه ده؟ څنګه دا ستونزه هوارېدلای شي؟ آيا تاسې خپل د اوسېدو ځای ته نژدې ډاکټران لرئ؟
5. تاسې په کوم ځای کې ځآن 'په کور کې' محسوسوئ؟ څه شی تاسې ته د دا ډول احساس درلودلو انګېزه درکوي؟